**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۷۰** (از ۱۱ الی ۱۸ اسد ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........................................................................................ ۲

**افغان-پاک اړیکې؛ د تورخم له جګړې وروسته ............................................................ ۳**

- د تورخم شخړه او د بې‌باوریو ژوره څپه..................................................... ۴
- د اسلام‌آباد په اړه د کابل د تګلارې بدلون..................................................... ۵
- د افغان-پاک اړیکو د ترینګلتیا ریښې.......................................................... ۶
- افغان-پاک اړیکې په کوم لور؟............................................................. ۷

**دکتور امین: طالبانو ته مو د بین الافغاني تفاهم طرحه وړاندې کړه/مرکه .............................. ۸**

**چین ته د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د علمي پلاوي سفر ................................ ۱۳**

## مقدمه

کابو دوي میاشتې مخکې په تورخم کې د پاکستان له خوا د تاسیساتو جوړولو له کبله د دواړو هېوادونو د امنیتي ځواکونو ترمنځ خونړی نښته وشوه او څو ورځې یې دوام وکړ. له دې پېښې وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو راوروسته د بل هر وخت په پرتله زیاتې کړکېچنې شوې او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې پر سوداګری، په پاکستان کې د افغان کډوالو پر وضعیت او نورو برخو هم ژوره اغېزه وښندله.

د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې مستقیما په افغانستان کې له امنیت او ثبات او له افغان طالبانو سره د سولې بهیر له بریا سره تړل شوې دي؛ ځکه نو کله چې د پاکستان په نوښت پیل شوې څلور اړخیزې خبرې اترې ناکامې شوې او پاکستان ونه توانېد چې طالبان د خبرو اترو مېز ته حاضر کړي، دا اړیکې د تریننګلتیا په لور ولاړې. په دې وروستیو کې یو ځل بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو رغولو هڅې پیل شوې دي؛ خو دا چې د تورخم جګړې پر دغو اړیکو څومره اغېز وښانده او کابل-اسلام‌آباد اړیکې دا مهال په کوم لوري روانې دي؟ د دې اوونۍ په تحلیل کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له رئیس دکتور عبدالباقي امین سره قطر ته د نوموړي د سفر او هلته د افغان طالبانو د سیاسي دفتر له غړو سره د کتنې په اړه د مرکز د رسنیزې څانګې مرکه لولئ. همدا راز د تحلیل په وروستۍ برخه کې چین ته د افغانستان-چین د تحقیقاتي مرکزونو ترمنځ د نظرونو تبادلې پروګرام کې، د افغان پلاوي د څو ورځني سفر راپور لولئ.

# افغان-پاک اړیکې؛ د تورخم له جګړې وروسته




دا مهال د افغانستان او پاکستان اړیکې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو را وروسته تر ټولو ډېرې ترینګلې شوې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باوریو واټن هم د وروستیو دوو کلونو په پرتله خورا زیات شوی دی. په تورخم کې د پاکستان له لوري د جوړېدونکې دروازې کار هم نژدې په بشپړېدو دی او افغان چارواکو دا چاره د دوه‌اړخیزو هوکړو خلاف بللې ده. د دې ترڅنګ، په پاکستان کې پر افغان کډوالو د ژوند کړی ورځ تر بلې راتنګېږي. د افغانستان د کډوالو چارو وزارت په وینا، یوازې په تېره یوه اوونۍ کې تر ۳۰ زره زیات افغان کډوال له پاکستانه راستانه شوي. د خیبر پښتونخوا ایالتي حکومت چارواکو هم تېره اوونۍ افغان کډوالو ته یوه اوونۍ وخت ورکړ، څو د دغه ایالت له کرم ایجنسۍ او نورو قبایلي سیمو څخه ووځي او خپل هېواد ته ستانه شي.

له بلې خوا، له تېرو دوو اوونیو راهیسې پاکستان یو ځل بیا د افغان سولې په اړه بیانونه ورکوي. د پاکستان د بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د خبرو اترو په اړه ویلي، چې د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ به ډېر ژر خبرې اترې پیل شي. دغه راز په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو مشر جنرال نېکولسن هم څو ورځې مخکې پاکستان ته په سفر کې د پاکستان له لوی درستیز راحېل شریف سره د افغانستان د سولې پروسې د بیا پیل په اړه خبرې وکړې. د دې ترڅنګ په قطر کې د افغان طالبانو د سیاسي دفتر استازو هم چین ته سفر وکړ او په روانه اوونۍ کې به د پاکستان لوی درستیز راحېل شریف هم چین ته په یوه رسمي سفر ولاړ شي.

په داسې حال کې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باوري خپل اوج ته رسېدلې، د افغانستان د سولې پروسې له بیا پیل څخه وړاندې د دغې بې‌باورۍ ختمول اړین دي. پوښتنه دا ده، چې پر اسلام‌آباد د کابل بې‌باوري ولې زیاته شوې، د دوه‌اړخیزو اړیکو په خرابولو کې د تورخم شخړې او جګړې څومره رول ولوباوه، د افغان-پاک اړیکو اساسي ستونزه چېرته ده او افغان-پاک اړیکې دا مهال پر کوم لوري روانې دي؟

## د تورخم شخړه او د بې‌باوریو ژوره څپه

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو په تاریخ کې په لومړي ځل په تورخم کې د افغان امنیتي ځواکونو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ جګړه ونښته او تر څو ورځو یې دوام وکړ. دغې جګړې نه یوازې دا چې د دواړو دولتونو او حکومتونو ترمنځ د بې‌باورۍ واټن زیات کړ، بلکې د دواړو خواوو په خلکو کې یې هم د یو بل پرضد کرکه راوپاروله. دغه حالت پر سوداګرۍ، ترانزیټ، روغتیا او د نرم ځواک په برخه کې ژورې اغېزې وکړې.

له دې پېښې وروسته، د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري مخ پر کمېدو شوه، هېواد ته له پاکستان څخه د غنمو واردات اغېزمن شول، پاکستان ته د افغان ناروغانو تګ کم شو، د ترانزیټ په برخه کې د افغان سوداګرو تکیه هم د پاکستان پر لاره کمه او د ایران پر لور یې پاملرنه زیاته شوه او دا چې وروستیو بدلونونو د دواړو خواوو په خلکو کې هم د یو بل پرضد د کرکې عنصر راوټوکاوه، له کبله یې اوس افغانستان ته د پاکستاني کاریګرو راتګ هم کم شوی او په بل اړخ کې له پاکستان څخه هم افغان کډوال په تدریجي ډول راستنېږي.

له سیاسي اړخه هم د تورخم جګړې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باورۍ واټن زيات کړ، چې په لنډمهال کې به د دغه واټن کمول ستونزمن وي. دغه بې‌باوري له سليم صافي سره د افغان ولسمشر او دغه راز په افغانستان کې د پاکستان د سفير سيد ابرار حسين له مرکو څخه هم څرګندېږي.

## د اسلام‌آباد په اړه د کابل د تګلارې بدلون

د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره، افغان ولسمشر محمد اشرف غني د خپلې "پاکستان تګلارې" په تړاو د هېواد دننه پر ځان يو لوی سياسي خطر ومانه او نه يوازې دا چې پاکستان ته د کابل د تېر بهرني سياست په پرتله ډېر نږدې شو، بلکې اسلام‌آباد ته يې په بې‌ساري ډول امتيازات هم ورکړل. د بېلګې په ډول د افغان امنيتي ځواکونو افسران يې پاکستان ته د روزنې لپاره ولېږل، د آی ايس آی او ملي امنيت ترمنځ د دوه‌اړخيزې همکارۍ هوکړه‌ليک لاسليک شو، له هند سره يې اړيکې سړې کړې او افغان ولسمشر د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته تر اوو مياشتو پورې هند ته سفر ونه کړ، له هند څخه يې د درنو وسلو غوښتنه وځنډوله، پاکستان ته يې د تحريک طالبان پاکستان مشر لطيف الله محسود وسپاره (که څه هم د لطيف الله محسود په نيولو کې امريکايانو رول درلود، خو پاکستان ته د ده په سپارلو کې بيا امريکايانو هېڅ رول نه درلود بلکې دا د افغان حکومت خپله پرېکړه وه) او وروسته يې د پاکستان په مشوره او وړانديز په څلور اړخيزو خبرو اترو کې ګډون وکړ.

په بل اړخ کې هغه مهال کابل ته د پاکستان د سياسي او نظامي لوړ پوړو چارواکو سفرونه هم د تېر په پرتله ډېر زيات شول او کابل ته به د هر پاکستاني لوړپوړي چارواکي له سفر سره، له افغان حکومت سره د سولې په اړوند نوي نوي ژمنې کېدې؛ خو پاکستان بيا په خپلو دغو ژمنو کې تر ډېره پاتې راغی.

د پاکستان په تړاو د ولسمشر غني د تګلارې، پاکستان ته امتيازاتو ورکولو او په کابل کې د خونړيو چاودونو له زياتېدو سره افغان حکومت د رسنيو، ملي شورا د غړو او پخوانيو حکومتي چارواکو له سختو نيوکو سره مخ شو او دې چارې ورو ورو د پاکستان پر وړاندې د افغان حکومت پر تګلاره سخته اغېزه وکړه او وروسته بيا د څلور اړخيزو خبرو اترو ناکامي د دغو اړيکو د زيات خرابوالي لامل شوه.

## د افغان-پاک اړیکو د ترینګلتیا ریښې

د ملي وحدت حکومت تر چتر لاندې د کابل- اسلام‌آباد اړیکو د کړکېچنېدو مهم عوامل په لاندې ډول بیانولی شو:

**لومړی: له وړتیا زیاته ځان ښودنه**؛ د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته، کله چې د پاکستان نظامي او سیاسي لوړ پوړو چارواکو له افغان حکومت سره کومې تودې ژمنې وکړې، ډېری یې یا هغوی په شعوري ډول عملي نه کړې او یا یې هم افغان لوري ته له خپلې وړتیا څخه زیاته ځان ښودنه کړې وه. دا چې آیا پاکستان په قصدي ډول ژمنې عملي نه کړې او که یې د هغو ژمنو پوره کول په وس پوره نه وو، بېله موضوع ده؛ خو د پاکستان تودو ژمنو د کابل هیلې زیاتې کړې وې او کله چې بیا د پاکستان لخوا دا ډول ژمنې عملي نه شوې، نو دغه هیله‌مندۍ په ناهیلۍ او بې‌باوریو واوښتې.

**دویم: په افغانستان کې امنیت**؛ د کابل- اسلام‌آباد ترمنځ د اړیکو خرابېدو بل عمده لامل د ناامنیو زورورې څپې وې؛ ځکه دا دوه‌اړخیزې اړیکې په افغانستان کې د ناامنیو له کچې سره تړل شوې دي. هر څومره چې په افغانستان کې ناامنۍ او خونړۍ چاودنې ډېرې وي، هومره یې پر دوه‌اړخیزو اړیکو اغېزې ژورې وي.

**درېیم: افغان طالبان او پاکستان**؛ په پاکستان کې د افغان طالبانو شتون هغه بل لامل دی، چې پر اسلام‌آباد یې د کابل په بې‌باوره کولو کې مهم رول لوبولی دی.

**څلورم: ډېورنډ کرښه او بارډر منجمنټ**؛ په عمومي ډول افغان-پاک اړیکې چې څومره د ډېورنډ کرښې له کبله اغېزمنې شوې، هیڅکله هم د کوم بل لامل له کبله دومره نه دي اغېزمنې شوې. په دې وروستیو کې د پاکستاني نظامیانو د بارډر منجمنټ د پروګرام له مخې، چې افغان لوری یې د ډېورنډ کرښې د رسمي کېدو په توګه ګڼي، هم د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرابې شوې. همدغه بارډر منجمنټ پروګرام د دې لامل شو، چې په تورخم کې افغان او پاکستاني امنیتي ځواکونه له یو بل سره په جګړه کې ښکېل شي.

**پنځم: په افغانستان کې د هند نفوذ**؛ په افغانستان کې د هند نفوذ هم پر افغان-پاک اړیکو ډېره اغېزه کړې او همدغه فکتور بیا د پاکستان د افغان تګلارې مهم عنصر دی. د پاکستان افغان تګلاره تر ډېره په افغانستان کې د هند پر نفوذ او حضور راڅرخي.

**شپږم: د پاکستاني تګلارې تذبذب**؛ که څه هم پاکستاني لوړ پوړي چارواکي او په افغانستان کې د پاکستان سفیر سید ابرار حسین په افغان چارواکو دا نیوکه کوي، چې د افغان طالبانو په اړه د افغان حکومت تګلاره

متذبذبه ده. دوی له یوې خوا غواړي، چې له افغان طالبانو سره سوله وکړي او بله خوا بیا له پاکستانه غواړي، چې د افغان طالبانو پرضد عملیات وکړي. مګر که د دوه‌اړخیزو اړیکو تېر څو کلن مزل ته وګورو، د پاکستان حکومت افغان تګلاره د تذبذب ښکار شوې ده. د پاکستان حکومت او نظامیان د افغان حکومت او افغان طالبانو ترمنځ توازن ساتل غواړي او نه پوهېږي، چې له چا سره مرسته وکړي. دوی که له یوې خوا د افغان حکومت پر غوښتنه پر افغان طالبانو فشار زیاتول غواړي، نو په بل اړخ کې بیا د افغان طالبانو له غبرګون څخه هم وېره لري او له دې هم اندېښنه لري، چې له افغان طالبانو سره د ژورې دښمنۍ له کبله به د لنډ مهال لپاره پر طالبانو خپل شته نفوذ بایلي او په اوږده مهال کې به یې په راتلونکي افغان حکومت کې د نفوذ اغېزې هم کمې شي.

## افغان-پاک اړیکې په کوم لور؟

په اوسني وخت کې نه یوازې دا چې د دواړو لوریو د حکومتونو ترمنځ بې‌باوري زیاته شوې، بلکې د دواړو خواوو د خلکو ترمنځ هم د بې‌باورۍ څرکونه څرکند دي. د افغان حکومت د لوړ پوړو چارواکو څرګندونو ته په کتلو سره داسې ښکاري چې افغان حکومت به دا ځل په اسانۍ سره د څلور اړخیزو خبرو اترو تر چتر لاندې د سولې په خبرو اترو کې ګډون ونه کړي او نه هم اوسنیو شرایطو ته په کتلو سره دا شونې ده، چې افغان حکومت به د افغان-پاک اړیکو د رغولو لپاره اقدام وکړي.

د دواړو اړخونو ترمنځ خرابې شوې اړیکې یا خپله پاکستان د خپلو اقداماتو په مرسته او یا هم کوم بل درېیمګړی هېواد -لکه چین- رغولای شي، بلکې په دې منځ کې د چین د اغېزناک رول زیاته شونتیا هم شته ده؛ ځکه چین نه یوازې دا چې ورو ورو د افغانستان په ثبات او امنیت کې لېوالتیا اخلي، بلکې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ښې اړیکې هم په خپله ګټه بولي.

# دکتور امين: طالبانو ته مو د بين الافغاني تفاهم طرحه وړاندې کړه/مرکه



**مقدمه**

په قطر کې د طالبانو سياسي دفتر په ۲۰۱۳ کال کې رسما پرانېستل شو؛ خو افغان حکومت دغه دفتر د «اسلامي امارت» د لوحې او د طالبانو د بيرغ ځوړندولو له کبله په رسميت ونه پېژانده. له دې سره سره، طالبانو په تېرو کلونو کې د افغان قضيې د سوله‌ييز هواري لپاره، د قطر سياسي دفتر د خبرو اترو يوازېنی ادرس بللی او له دې لارې يې په بېلابېلو ملاقاتونو او کنفرانسونو کې نړيوالو ته هم خپل دريځ روښانه کړی دی.

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز رييس دکتور عبدالباقي امين د جولای په ۲۴مه قطر هېواد ته سفر کړی او په دغه هېواد کې يې د طالبانو د سياسي دفتر له غړو سره کتلي دي. د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز رسنيزې څانګې له ښاغلي امين سره د نوموړي د دغه سفر او د سولې بهير په تړاو د طالبانو د دريځ په اړه مرکه کړې او دلته يې له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوو:

**لومړی پوښتنه مې دا ده، چې د افغانستان جګړه اوس بشپړه افغاني شوې او قربانیان یې افغانان دي، تاسو په دې اړه د طالبانو دریځ څرنګه وموند، ایا د طالبانو په دریځ کې د پخوا په پرتله څه بدلون راغلی؟**

**ځواب:** لکه تاسو چې وویل، په قطر کې مو د طالبانو د سیاسي دفتر له مشر او د دغه دفتر له ځینو غړو سره وکتل او له هغوی سره مو د سولې بهیر او افغان قضیې د هوارې په تړاو خبرې وکړې. د طالبانو استازو موږ ته وویل، چې موږ هم د افغانانو په وژنه خوښ نه یو او په دې ډېر خفه یو چې د دې جګړې قربانیان افغانان دي. کوم کسان چې د اردو او پولیسو په لیکو کې وژل کېږي، زموږ مسلمان وروڼه دي او امریکایانو په لوی لاس وغوښتل چې دا جنګ افغاني کړي. دوی موږ ته په ډاګه وویل، چې غواړي دا افغان وژنه نوره بنده شي.

**په ټوله کې اوسمهال د سولې په اړه د هغوی نظر څه و؟ او د څلور اړخیزو خبرو اترو په تړاو یې څه دریځ درلود؟**

**ځواب:** که په یوه جمله کې ووایم، طالب استازو موږ ته وویل چې سوله زموږ غوښتنه ده او جنګ پر موږ تپل شوی. د دوی په خبره، د طالبانو واک له پاکستان سره نه دی. دا چې افغان حکومت له پاکستان څخه وغوښتل، ترڅو طالبان د مذاکراتو مېز ته راولي، یو ناسم اقدام و او پاکستان دا کار نه شي کولی؛ همدا لامل دی چې څلور اړخیزې خبرې اترې له ناکامۍ سره مخ شوې.

**د افغانستان د بیا رغونې لپاره د امریکا سرڅېړونکي دفتر (سیګار) په اند، د ملا منصور وژل کېدو د سولې بهیر له خنډونو سره مخ کړی دی. ښایي تاسو ته به د طالب استازو له نظرونو جوته شوې وي، آیا رښتیا هم د امریکایانو لخوا د طالبانو د پخواني مشر ملا اختر محمد منصور وژل کېدو د سولې په لاره کې خنډ جوړ کړ؟**

**ځواب:** د طالبانو د استازو په اند، ملا اختر محمد منصور د سولې مخالف نه و، بلکې هغه په دې قضیه کې د پاکستان د بشپړ رول او مالکانه تصرفاتو مخالف و. همدا لامل و چې نوموړي له وژل کېدو درې میاشتې مخکې ځان د پاکستان له لاسرسي څخه لرې کړی و او د پاکستان له خوا یې د مرګ ګواښ هم ترلاسه کړی و. د قطر دفتر د غړو په خبره، نوموړی سولې ته د یو لړ افغاني او ملي ګټو په چوکاټ کې ژمن و او د قطر دفتر هم، چې له لارې یې طالبانو له ډېرو افغانانو سره خپل نظرونه شریک کړل، د هغه ابتکار و.

زما خپل نظر دا دی، چې د ملا منصور وژل کېدو د سولې په لاره کې خنډونه رامنځته کړل او ترڅنګ يې پر امریکایانو او پاکستانیانو هم بې‌باوري نوره هم زیاته کړه؛ ځکه طالبان داسې انګېري چې ملا منصور د پاکستان او امریکا په ګډه همکارۍ له منځه یوړل شو.

**که په مشخص ډول راته ووایئ، چې آیا د ملا اختر محمد منصور وژل کېدو د افغان طالبانو په دریځ کې بدلون راوستی؟**

**ځواب:** زما په اند، د ملا اختر محمد منصور وژل کېدو د طالبانو په ټولیز دریځ کې کوم بدلون نه دی راوستی. هغوی هم له جګړې سترې ښکارېدل او د جګړې دوام یې د افغانستان په ګټه نه باله؛ خو دا خبره یې کوله چې موږ اوس د افغانستان په زیاته برخه واکمن یو، پوره نظامي او مدني تشکیلات لرو، امریکایانو په افغانستان کې ماته خوړلې؛ نو اوس پکار ده چې افغانان په خپل منځ کې سره تفاهم وکړي، ترڅو یوه لاره پیدا شي چې جګړه په هېواد کې ودرول شي. طالب استازو موږ ته وویل، چې دوی د واک انحصار نه غواړي او حاضر دي چې د بین الافغاني تفاهم په پایله کې د افغانستان د راتلونکي په اړه یوه توافق ته ورسېږي.

**تاسو وویل، چې افغان طالبان د بین الافغاني تفاهم په چوکاټ کې سولې ته چمتو دي، او په بل اړخ کې افغان حکومت هم په وار وار سره افغان طالبان د سولې خبرو اترو ته رابولي، نو ستاسو په اند بیا ستونزه چېرې ده، چې د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ خبرې اترې نه پیلېږي؟**

**ځواب:** طالبان وايي چې افغان حکومت سولې ته ژمن نه دی، خبرې کوي خو د سولې لپاره عملي او صادقانه ګامونه نه پورته کوي. د حامد کرزي د دورې په اړه طالبانو موږ ته وویل چې، حامد کرزي د طالبانو د ادرس له نشتون خبرې کولې؛ خو کله چې ادرس پیدا شو او په قطر کې دفتر پرانېستل شو، نو بیا یې مخالفت ورسره وکړ. کله چې په ترکمنستان کې د سولې مذاکرات په پلان کې وو، هغه یې هم بند کړل. هغوی ویل چې ولسمشر اشرف غني سره یې هم له ټاکنو مخکې لیدلي وو او ترمنځ یې تفاهم موجود و؛ خو کله چې اشرف غني واک ته ورسېد، له امریکایانو سره یې امنیتي تړون لاسلیک کړ او بیا یې امریکایانو ته د شپنیو عملیاتو اجازه ورکړه. وروسته یې پاکستان ته داسې مخه کړه چې ګواکې پاکستان د طالبانو اختیار په واک کې لري؛ نو ځکه دا ټول هغه اقدامات دي چې د حسن نیت او سولې ته د لېوالتیا ښکارندویي نه کوي. په عین حال کې هغوی دا خبره هم کوله، چې ترڅو په افغانستان کې امریکایان پوځي حضور ولري، دوی به جګړې ته دوام ورکړي؛ خو

امریکایان د بشپړ وتلو نېټه وټاکي او په دې هکله ضمانت ورکړي، نو د نورو خبرو لپاره به تفاهم او توافق اسانه شي.

**که په لنډو ټکو کې دا راته ووایئ، چې قطر ته ستاسو د سفر او له طالب استازو سره د کتنې اصلي موخه څه وه؟**

موږ د طالبانو استازو ته د سولې د خبرو په تړاو خپله طرحه وړاندې کړه. زموږ د طرحې له مخې، د افغان ولس له منځه باید د موثرو کسانو یو داسې مجلس جوړ شي، چې په بېلابېلو سیاسي لورو باندې اغېز ولري او د دغه مجلس په پایله کې د سولې لپاره یو سکرتریت جوړ شي، ترڅو د ښکېلو لورو نظرونه سره رانژدې کړي او د اختلافي ټکو د له منځه وړلو هڅه وکړي. ترڅنګ یې د سیمې د هېوادونو او ځینو نړیوالو هېوادونو له استازو د سولې یوه ملاتړ کوونکې کمېټه جوړه شي او د سولې لپاره د جوړ شوي سکرتریت لپاره اسانتیاوې برابرې کړي، د سولې په تړاو د نورو هېوادونو پر قناعت حاصلولو کار وکړي او همدا راز د سولې د توافقاتو د عملي کېدو او تعهداتو ضمانت وکړي. له دغو ګامونو وروسته که چا سوله نه غوښته او خنډونه یې جوړول، هغوی افغان ملت او نړۍ ته وروپېژندل شي او داسې فشارونه پرې راوړل شي، چې ټول لوري سولې ته غاړه کېږدي.

**د طالبانو د قطر دفتر غړو، د سولې په اړه ستاسو د طرحې او بین الافغاني تفاهم په اړه څه نظر درلود؟**

تر کومه چې موږ د طالبانو له استازو سره خبرې وکړې، هغوی هم په بشپړ ډول زموږ له دې طرحې سره موافق وو او موږ ته یې ډاډ راکړ چې د افغانستان د قضیې د حل لپاره پر بین الافغاني تفاهم قناعت لري او که یو داسې ګروپ چې اسلام او وطن ته مخلص وي، دا ابتکار په لاس کې واخلي، دوی به ورسره همکاري وکړي ترڅو په هېواد کې له روانې جګړې د وتلو لپاره لاره پیدا شي.

طالب استازو موږ ته وویل، چې د پګواش کنفرانسونو ګټه دا وه چې په مرسته یې موږ له ډېرو افغانانو سره تفاهم وکړای شو او ډېرې بدګمانۍ یکې له منځه ولاړې؛ خو اوس هم د دې طرفدار یو چې یو افغان منځګړی لوری د سولې ابتکار په لاس کې واخلي او دا بهیر په اخلاص سره داسې مدیریت کړي چې په پایله کې یې تلپاتې سوله ټینګه شي.

**تاسو د بین الافغاني تفاهم یادونه وکړه، دغه بین الافغاني تفاهم څرنګه راتللی شي، یا میکانیزم به یې څه وي؟**

**ځواب:** زما په اند، پر سوله د ټولو افغانانو قناعت کاملا عام شوی دی، یوازې دې ته اړتیا ده چې یو څو مخلص او اغېزناک کسان دا ابتکار په لاس کې واخلي او سوله غوښتونکې څېرې په اعتماد کې واخلي او ولس په ځان پسې ودروي او په څو پړاوونو کې دا خبرې اترې مخته یوسي.

**لومړی:** د افغانانو تر منځ په سوله باندې قناعت او د خنډونو له منځه وړلو لپاره هڅې وکړي.

**دویم:** د سیمې له هېوادونو سره داسې تفاهمات وکړي، چې سوله د هغوی په ګټه ده او باید د سولې په پروسه کې مثبت رول ولوبوي.

**دریم:** په نړیواله کچه د سولې د پروسې لپاره مخلص ملاتړي راپیدا کړي، لکه د ملګرو ملتونو او اسلامي همکاریو سازمان. همدا راز د هغو اسلامي او اروپايي هېوادونو پاملرنه راجلب کړي چې په صادقانه ډول د جګړې مخالف دي. په دې توګه د ملاتړ کوونکو هېوادونو رول داسې تنظیم کړي، چې هم د سولې د خبرو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي او ترڅنګ یې د ضمانت کوونکو رول هم ولوبوي.

**څلورم:** د دې ترڅنګ داسې یو معقول پیغام ترویج شي، چې په هغو هېوادونو کې پالیسي جوړوونکي ترې اغېزمن شي چې د سولې مخالف سیاستونه لري. د بېلګې په ډول، ډېری شنونکي پر امریکا دا تور لګوي چې ظاهرا د سولې د بهیر ملاتړ کوي، خو په حقیقت کې په افغانستان کې جګړه مدیریت کوي.

**مننه**

# چین ته د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د علمي پلاوي سفر




د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یوه پلاوي د «چین او افغانستان د تحقیقاتي مرکزونو ترمنځ د نظرونو د تبادلې پروگرام – ۲۰۱٦» کې چین ته سفر وکړ.

په دغه پلاوي کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز ترڅنګ، د افغانستان له څو نورو معتبرو تحقیقاتي مرکزونو څخه هم څېړونکو برخه اخیستې وه.

دغه رسمي ۱۲ ورځنی سفر په افغانستان کې د چین سفارت په همکارۍ د جولای له ۱۷مې تر ۲۹مې پورې تنظیم شوی و او د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز اجرایوي مسؤول او څېړونکي حکمت الله ځلاند او د دغه مرکز د چین-افغانستان د برخې څېړونکي احمد بلال خلیل پکې ګډون کړی و.

د افغانستان د تحقیقاتي مرکزونو دغه ۹ کسیز پلاوی لومړی د چین سیچوان ایالت چېنګډو ښار ته ولاړ، هلته یې د «طبیعي پېښو مدیریت او بیارغونې په انستیتوت (IDMR)» او په سیچوان پوهنتون کې «د سوېلي آسیا د څېړنو انستیتوت» کې له چینايي پروفیسرانو او څېړونکو سره خپل نظرونه تبادله کړل.

د سفر په دویم پړاو کې افغان پلاوی د جولای په ۲۰مه د چین پلازمېنې بیجینګ ته ولاړ او هلته یې د «چین د معاصرو نړیوالو اړیکو انستیتوت (CICIR)»، د چین د نړیوالو څېړنو انستیتوت (CIIS)، بیجینګ پوهنتون (PKU)، د چین ملي دفاع پوهنتون (NDU)،کې له چینايي څېړونکو، افغان پېژندونکو او پروفیسرانو سره په ګردیو مېزونو کې برخه واخیسته.

د دې ترڅنګ، افغان پلاوي د جولای په ۲۲مه په چین کې د افغانستان له سفارت څخه هم لیدنه وکړه او په بیجینګ کې یې د افغانستان له سفیر ښاغلي جانان موسی زي سره د دغه سفر د لاسته راوړنو په اړه معلومات شریک کړل. دغه راز افغان پلاوي د دواړو هېوادونو د دوه‌اړخیزو اړیکو او همکاریو د پیاوړتیا لپاره خپل وړاندیزونه هم له افغان سفارت سره شریک کړل.

په درېیم او وروستي پړاو کې افغان پلاوی د جولای په ۲۵مه د چین سوداګریز ښار شانګهای ته ولاړ او هلته یې د «شانګهای د نړیوالو څېړنو انسټیټوټ (SIIS)» او دغه راز د «شانګهای د حقوقو او سیاسي علومو پوهنتون» کې له چینايي پروفیسرانو او سکالرانو سره پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې.

په عمومي ډول په دغو بحثونو کې د افغان-چین دوه‌اړخیزو اړیکو، د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو لپاره شته فرصتونو او خنډونو، په افغانستان کې امنیتي وضعیت، د افغانستان د سولې بهیر او د سولې څلور اړخیزو خبرو اترو، د افغانستان-پاکستان اړیکو، سیمه‌ییزو پروژو لکه یو کمربند یوه لاره، او نورو اړوندو موضوعاتو دوه‌اړخیز بحثونه وشول.

د دې ترڅنګ افغان پلاوي د چین له یو شمېر تاریخي سیمو څخه هم لیدنه وکړه او د جولای په ۲۹مه کابل ته راستون شو.









پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.